مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۳/۰۵/۲۸

# عربستان؛ له روايتونو تر نوښتونو

د الرياض له ښار څخه:



ښاغلی ولي الله ملکزی

که يو څوک د عربي ټاپو وزمي تاريخ مازيې د کمزورو لِنزونو په ساده چشمکو مطالعه کړي، نو درې ځانګړتياوې به يې خامخا سترګې وبريښوي. د جاهليت په مهال، د بشري ناورين تورې بلا همدلته په شړشمو کمځی غوړولې او د يمن له بلقيس پرته، عربان د هيڅ ډول سياسي نظام او حکومتدارۍ سره آشنا نه وو. پلار به د شرم له مخې، تازه زيږيدلې ګلالۍ لور پخپلو لاسونو ژوندۍ خښه کړه او جنډه بريتونه به د خرما د سيوري لاندې ويده شو. بيا په همدې شرميدلې او عيبجن پير کې، د حجاز د شګلنو دښتو او سپيرو غرونو دننه د حق تعالی يو نالوستي وروستني استازي د ليک لوست، مدنيت او ټولنيز عدالت له پيغام سره را څرګند شو. پيړۍ لا پوره نه وه چې د حِراء په سمڅې کې د بلې شوې ډيوې رڼا د کاشغر، بخارۍ، بغداد، قيروان او قرطبې دنګې ماڼې وځلولې. د پارس او روم امپراتورۍ د ستوماني ماضي برخه شوه؛ د فرعونيانو آهرامونه د عمرو بن العاص آسپ سورو ته سلامي او د آبو الهَول ډِيو صفته مجسمه په ګردونو کې چُپ پاتې شوه.
د اتمې هجري صدۍ له پيله تر دې وروستيو کلونو پورې، د جزيرة العرب زياتره ولسونه د شيخ الاسلام ابن تيميه د افکارو او فتواګانو په خم کې رنګ او د هغه د لارې لاروي وو. د عقيدوي مسائلو په رغون کې د هغه هڅې ډيرې اغيزمنې او اړينې وې؛ خو اوسني توند لاري وګړي او اورپکې ډلې د ابن تيميه فتواوې د خپلو جنګي خوځښتونو د مشروعيت او برائت لپاره دليل نيسي.

له بله پلوه، په دې ټولې مودې کې چې تقريبا شپږ پيړۍ کيږي هرڅه د روايت او تقليد په تله تلل کيدل. د استدلال، اجتهاد او عقلاني ارزونې دروازې همداسې مُهر لاک پاتې وې او د هر ډول نوښت او اصلاح مخه نيول کيدله. ما (ملکزي) په ۱۹۸۶م کې د سعودي له پخواني عمومي مفتي، مرحوم عبدالله بن باز سره په طائف کې وليدل. هغه مهال نوموړي باور درلود چې ځمکه يوه هواره تخته ده، کروي بڼه نه لري، ثابته ولاړه ده او هيڅ ډول حرکت نه کوي؟ خو د حيرانتيا خبره دا ده چې نن هم د هغه ګڼ شمير پلويان د دغې نظريې ننګه کوي.
په ۱۷۴۴ ميلادي کال کې د آل سعود د لومړنۍ واکمنۍ بنسټګر، محمد بن سعود له شيخ محمد بن عبدالوهاب سره د نَجْد په اَلدِرعِيةَ کې د سياست او دعوت ترمنځ داسې يو تړون لاسليک کړ چې د ۲۷۹ کلونو له تيريدو سره سره، دمګړۍ پخپل حال پاتې دی. لرغوني آندونه، مذهبي روايتونه او د تَجَدد په وړاندې بې ضرورته انديښنې؛ مګر د سعودي ۳۶ کلن ځواکمن او زړور وليعهد شهزاده، محمد بن سلمان آل سعود چې د وزيرانو د شورې رئيس هم دی، داسې جُرئت، ابتکار او چارې پيل کړې چې د چا په تصور او خيال کې هم نه راتللې.
د ۲۰۱۶م کال په اپريل کې يې د ۲۰۳۰م کال لپاره يو ستراتيژيک لرليد (رُؤية / Vision) اعلان کړ چې د غاز او نفتو په ځای د اقتصاد او پرمختګ لپاره نورې متبادلې لارې په ګوته کوي. د نيوم ستره پروژه چې مصر او اردن هم په بر کې نيسي، د دغه پلان مهمه برخه ګڼل کيږي. ابن سلمان وايي چې منځنې ختيځ به نوې اروپا وی. هغه په ۲۰۱۷م کال کې د خپلې شاهي کورنۍ ځينې اغيزمند غړي له ۴۰۰ تنو نورو مهمو شخصيتونو سره د مالي فساد په تور ونيول او د رياض د رتز کارلټن په هوټل کې يې د جرماني تر اداء کولو پورې قيد وساتل. د مذهبي پوليسو واک يې کم کړ؛ ښځو ته يې د موټر چلولو اجازه ورکړه او د هغوئ د کار حق او فيصدي يې خوندي کړه.
د بهرنۍ پاليسۍ نوی څيرکې يې له ايران، سوريې او کاناډا سره د ډيپلوماتيکو اړيکو په تازه کولو پرانيست. له لويديځې نړۍ سره د اتو لسيزو پوځي، سياسي او اقتصادي راشه درشه لري، مګر دوه مياشتې وړاندې يې له چين سره اوږد مهالې پروژې لاسليک کړې او «شي جين پينګ» يې په رياض کې ډير ونازولو. سره د دې چې د کرملين


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سره د اړیکو مزي ښه تاوده دي، خو د همدې میاشتې په ۱۹ تاریخ یې د جدې ښار کې عرب سرټولنې ته د اوکراین ولادیمیر زیلنسکي را وبللو کوم چې د یو خپلواک او متوازن سیاست نماینده ګي کوي. په عین حال کې د لویدیځې نړۍ مهمې رسنۍ، په یمن کې د ایران له پوځي ملاتړ څخه د برخمنو حوثي ملیشو خلاف د بې پایلې اته کلن جنګ خبرونه په غټو عنوانونو سره خپروي چې لا یې د پای څرک نه لګي.
سعودي عربستان چې د نړۍ د شلو سترو اقتصادي هیوادونو (G-20) غړی دی، یواځې تیر کال د آرامکو شرکت یې د تیلو او غازو د صادراتو له وجې ۱۶۱ ملیارده ډالره سوچه ګټه درلودله او هر کال د حج او عمرې له برکته لږ تر لږه ۱۲ ملیارده ډالره عائد ترلاسه کوي. د سعودي خپل نفوس ۲۳ ملیونو ته رسي او په څنګ کې یې ۱۳ ملیونه بهرني کارګر او مسلکي خلک اوسیږي چې څلور ملیونه یې هندیان دي. د سعودیانو د نفوس ۶۶ سلنه ځوانه طبقه ده چې عمرونه یې له ۳۵ کلونو څخه کم دي.
همدا تیره یکشنبه ۳۳ کلنې سعودۍ ستور مزلې، ریانة برناوي د ایلان ماسک په «فالکن نهه» توغندي کې لیرې فضا ته خپل څیړنیز سفر پیل کړ چې د دې کربنو ترلیکلو پورې دغه میرمن لا هم په فضا کې ده. هغه بله ورځ، زه د حضرت پیغمبر (ص) د شنې ګومبزې په څنګ کې د Starbucks دکان ته ننوتم؛ دوه دقیقې وروسته یوې ځوانې سعودۍ راته د کافي ګیلاس مخ ته کیښود چې لا هم اریان دریان یم. همدا شان سعودي ټولواک د دې کال په جنورۍ کې، د افغانستان د نومیالي ادیب او شاعر، ګل پاچا الفت لمسۍ او د اقتصاد پوه ډاکټر عبد الرحمن الفت لور، سارا السید د عربستان د بهرنیو چارو د وزارت معینه وټاکله چې یو بیساری ګام دی.
د عربستان د نوښتونو په دې پړاخه بهیر کې، د مکې، مدینې، بدر، احد، طائف او تبوک پیغلې په ډاډه زړونو هر سهار د قلم او کتابچې له کاروان سره غاړه غړۍ ښوونځیو او پوهنځیو ته ځي او مازیګر بیرته کورونو ته راستنیږي. مګر د سپین غر، تور غر، شمشاد، تاترې او سالنګ په لمنو کې میشتې نجونې د (نٓ. وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ) د سفر بیا پیل ته په تمه دي او د امر ثاني د انتظار شیبې د ګوتو په خوکو شماري.
---------------------------------------------
په مننې سره، ما په دې لنډې څیړنې کې د الریاض، الوطن او الشرق الاوسط له ورځپاڼو، Gulf Business خپرونې او دائرة المعارف څخه استفاده کړیده. که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولاې شي چې د ملکزي نورې لیکنې او څیړنې د هغه په فیسبوک، یوټیوب چینل او لنکډ ان کې ولولي او وګوري.
ادرس یې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ